د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدللّه ربّ العلمين والصّلوة والسّلام على سيّد المُرسلين و على آله و أصحابه أجمعين.

د خېښۍ، ودونو، مصيبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنيوي په هکله

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه اللّه تعالى

فرمان

mobta.gov.af
درېيم مکروريان، د هوايي ډگر سرک، کابل
+93 (0) 20 231 1711
info@mobta.gov.af

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

د اللّٰه تعالی دین چې خاتم النبیین حضـــرت محمد صلی اللّٰه علیه وسلم انســـــــانانو ته رسولی او بیان کړی دی، د دنیا او آخرت هر ډول نېکمرغي، ښېرازي او خوښي پکې نغښـــــــتې ده، چې په عملي کولو سره یې یقیناً د انســـــانانو ټولې ستونزې حل او د ژوند په هره مرحله کې یې له بې ساري اســـــانتیاوو څخه برخمن وي، اللّٰه تعالی ته خپل دین خوښ دی او خپلو بندګانو ته یې د مهربانۍ له مخې د فکر، تدبر او عملي کولو بلنه ورکړې ده او د ژوند په ټولو ساحو کې د دین عملي کولو لپاره یې حضـــرت محمد صلی اللّٰه علیه وســـلم نمونه ګرځولی دی او د هر هغه څه چې نبي صـــلی اللّٰه علیه وســـلم امت ته ورانديې کړي دي د عملي کولو او له هر هغه څخه چې منع کړي یې دي د ځان ســـاتلو حکم یې کړی دی.لکه څنګه چې اللّٰه جل جلاله په لاندې آیتونو کـــې فـــرمایلـــي دي: [لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِـــي رَسُولِ اللّٰهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ...] (الأحزاب:۲۱)

ژباړه: خامخا په تحقیق سره دی تاســـو لره په (کار) د رســـول اللّٰه کې اقتداء غوره نیکه (کابلی تفسیر)

همدا راز اللّٰه جل جلاله فـــرمایلـــي دي: [وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا] (الحشر، آیت: ۷).

ژباړه: او هغه څه چې درکړي تاســـې ته رســـول (د اللّٰه)، نو واخلئ هغه؛ او

هغه څه چې منع کوي (رسول الله) تاسې له هغه څخه، نو بېرته شئ (مه يې غواړئ) (کابلی تفسیر)

بله دا؛ هر هغه څه چې په دين کې نه وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مردود او باطل ګرځولي. لکه څنګه چې له حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ.

ژباړه: چا چې داسې يو عمل وکړ چې زموږ په دين کې نه وي، هغه مردود او باطل دی.

له حضرت شعبي رحمه الله تعالی څخه روايت دی چې حضرت عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه وفرمايل: يآأيهاالناس رُدُّوا الجهالاتِ إلى السنةِ.

ژباړه: ای خلکو! جاهلانه (د سنتو خلاف) طريقې سنتو ته واړوئ (د سمون کوشش يې وکړئ).

پورته آيتونو، حديث شريف او مبارک اثر ته په کتو، اسلامي امارت غواړي چې د ژوند په ټولو ساحو کې د سنت خلاف طريقې سنت ته واړوي، بناءً دا چې؛ نکاح (واده کول) سنت ده؛ خو متأسفانه زموږ په ټولنه کې له دغه شرعي او مسنون عمل سره ناسم او ناوانې رواجونه تر دې حده ګډ شوي چې خلک يې

نه یوازې په دنیوي لحاظ له ملا ماتوونکو مالي زیانونو سره مخ کړي؛ بلکې په دیني لحاظ هم ډېر منکرات پکې ترسره کېږي چې د څو مواردو یې دلته د اصلاح او مخنیوي په موخه یادونه کېږي:

په مهرونو کې زیاتوالی غوره کار نه دی :

شریعت، په ودونو کې د اسانتیا او له درنو مصارفو څخه د ډډې کولو ترغیب ورکوي.

له حضرت عائشې رضي اللّه تعالی عنها څخه روایت دی چې، رسول اللّه صلي اللّه علیه وسلم فرمایلي دي: «إِنّ أَعْظَم النِّكَاح بَرَكَةً أَيْسَرُه مَؤُونَةً »

ژباړه: په تحقیق سره، ډېره برکتي نکاح هغه ده چې لګښت یې لږ وي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي:

"تَيَاسَرُوا فِي الصَّدَاقِ،إِنّ الرَّجُلَ يُعْطِي الْمَرْأَة حَتَّى يَبْقَى ذَلِكَ فِي نَفْسِهِ عَلَيْهَا حَسِيكَةً "...

ژباړه: په مهر کې له یو بل سره اساني کوئ (یعنې لږ مهر ټاکئ) ځکه کله نارینه، ښځې ته دومره مهر ورکړي چې له امله یې له هغې ښځې سره په زړه کې کینه (نفرت) پیدا شي.

حضرت عمر رضي اللّه عنه فرمایلي دي:

أَلَا لَا تُغَالُوا صَدُقَةَ النِّسَاءِ، فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا، أَوْ تَقْوَى عِنْدَ اللَّه

لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ژباړه: خبردار! د ښځو مهرونه ډېر مه زیاتوئ؛ ځکه که د مهر زیاتوالی دنیوي عزت او یا د الله عزوجل په نزد تقوی وای، نو نبي صلی الله علیه وسلم یې تر تاسې زیات مستحق و.

له یادو او ځینو نورو مبارکو حدیثونو څخه په استدلال سره، فقهاء کرامو رحمة الله تعالی علیهم په مهر کې تخفیف مسنون او مرغوب بللی دی.

مهر، د منکوحې ښځې حق دی او بل هېچا ته یې خوړل صحیح نه دي.

مهر، د ښځې حق دی بل هېڅوک حق نه لري چې د هغې له خوښې پرته یې مصرف کړي، تر دې چې فقهاء رحمهم الله تعالی وایي: کوم پلرونه او نیکونه چې د لوڼو یا المسیو مهرونه خوري هغوی غاصب او د مهر ضامن دي؛ نو چې پلار او نیکه د مهر په خوړلو غاصب ګڼل کېږي، ورور، تره او نورو خپلوانو ته خو بېخي هېڅ لاره نشته چې د خویندو، وریرو او یا د نورو خپلوانو نجونو مهرونه وخوري یا یې د هغوی له خوښې پرته مصرف کړي.

پلرونه او خپلوان که د مهر له خوړلو راوګرځول شي، مهرونه خپله را کمېږي؛ ځکه نن سبا ډېرې پیسې هغه دي چې د مهر په نوم اخیستل کېږي خو پلار یا نور خپلوان یې خوري او ښځو ته د مهر په نوم ډېرې کمې پیسې ورکوي.

بناءً هغه ځو رواجونه چې پر شرعي منعې او اسراف سربېره په لوړه کچه د

اقتصادي ستونزو او د اجتماعي او اخلاقي ناخوالو سبب ګرځېدلي دي، چې د افغانستان اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء اړوند د فقهي مجالسو د علماء کرامو، د افغانستان د معتبرو شیوخ عظامو، د اقتصادي کمېسیون د محترمو غړو او د اړوندو وزارتونو او امارتي ادارو د ګډ ګمارل شوي هیئت د استازو له لوري تشخیص شول چې په هکله یې لاندې مراتب منظوروم:

د واده په اړوندو امورو کې د رعایت وړ ټکي

لومړۍ ماده :

(۱) د بالغې نجلۍ ولي چې اکثره اوقاتو کې د هغې پلار یا ورور وي شرعاً مکلف دی، د هغې د شرعي حقوقو رعایت وکړي.

(۲) د بالغې نجلۍ ولي شرعاً مسئولیت لري، د هغې په کوژده کولو کې له هغې سره مشوره او د هغې مثبت نظر واخلي.

(۳) د بالغې نجلۍ ولي، شرعاً نه شي کولای د هغې له خوښې پرته په اجبار سره یې چاته په نکاح ورکړي.

(۴) که د بالغې نجلۍ ولي، یا ده نجلۍ د هغې له خوښې پرته په اجبار سره چاته په نکاح ورکړه، هغه کولای شي محاکمو او اړوندو ادارو ته شکایت او عریضه وکړي، په دې صورت کې د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه اللّٰه تعالی د (۱۴۴۳/ ۴/ ۲۷هـ ق) نېټې د (۸۳ج۱) ګڼه د ښځو د حقونو فرمان رعایت

ضروري دی.

(۵) ښځه، د اسلام له نظره د نکاح کولو په موضوع کې د نارینه په څېر خپلواکه ده، په هېڅ صورت د چا مال نه ګرځي او د خپل خاوند له مړینې او یا طلاق وروسته د دې له خوښې او مشورې پرته یې خسرګنۍ او یا هم پلارګنۍ په زوره بل چاته په نکاح نه شي ورکولای، په خپله خوښه چېرته او چا سره چې وغواړي، له شرعي اصولو سره سم نکاح کولای شي.

(۶) کوم مهر چې په نکاح کې ښځې ته ورکول کېږي، هغه د ښځې حق دی او څوک یې نه شي ترې اخیستلی، په دې هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه اللّه تعالی د (۱۴۴۳/ ۴/ ۲۷هـ ق) نېټې د (۱۸۳) ګڼه د ښځو د حقونو فرمان رعایت ضروري دی.

(۷) که څوک په کومه نجلۍ یا ښځه دړې وکړي یا یې پیکی پرې کړي او یا څادر پرې واچوي، په دې او یا په بلې طریقې سره په جبري توګه هغه خپله ښځه وګڼي، دا غیرشرعي عمل او جرم دی، داسې اشخاص دې د اسلامي امارت محاکمو ته معرفي کړل شي، ترڅو د خپل جرم په سزا ورسېږي.

(۸) هغه کوژده چې د شاهدانو په مخ کې عقد (ایجاب او قبول) پکې نه وي شوی، شرعاً نکاح نه بلل کېږي.

(۹) په اسلامي شریعت کې د مهر کمه اندازه لس درهمه او زیاته اندازه یې

حد نه لري، که مېرمن راضي وي، په لس درهمه یا د هغې په معادل مال هم نکاح کېږي، که د هغې خوښه نه وي، بیا له زړه سوانده او خیرخواه پلار یا نیکه پرته نور خپلوان او یا بد اختیاره پلار او نیکه نه شي کولای چې تر مهر مثل په کمه اندازه د هغې نکاح وتړي او که یې تر مهر مثل په کمه اندازه د هغې نکاح تړلې وي، داسې نکاح صحیح نه ده؛ مهر د مېرمنې حق دی، خپلوان د ځان لپاره یوه پیسه هم نه غوښتلی او نه اخیستلی شي.

(۱۰) اسلامي شریعت د مهر د کموالي ترغیب کړی دی؛ خلک دې هڅه وکړي چې د زیات مهر اخیستلو رواج ختم او په کم مهر دې اکتفاء وکړي.

(۱۱) له مهر څخه علاوه د ولور، خورې، بابېړي، طویانې او خوښې په نامه د خسرګنۍ له خوا او یا د نورو رواجونو په نوم پیسې اخیستل جائزنه دي، فقهاء کرام رحمهم اللّٰه یې رشوت ګڼي.

(۱۲) له کوژدې وروسته د پښه خلاصي یا پښه ارتي او شریني خوري (غټ دستمال) او یا په نورو نومونو سره میلمستیاوې جوړول، بېځایه رواجونه دي، دېره دې ورڅخه وشي، د دوه ځله دستمال وړلو (غټ دستمال) اجازه نشته او په یو ځل دستمال (وړوکی دستمال) کې به هم د نارینه او ښځینه میلمنو تعداد په کمه اندازه وي او په دې مراسمو کې له زوم او ناوې پرته بل چاته تحفې ورکول منع دي؛ البته زوم او ناوې ته تحائف به هم د وسعې

مطابق یوازې جامې او نور د ډول او سینګار عادي شیان وي؛ موټر، موټرسایکل، کور (سرای) او داسې نور قیمتي شیان به په تحفه کې نه ورکول کیږي.

(۱۳) د دستمال مراسم به په هوټل کې نه وي؛ ځکه دا اسراف دی او اللّٰه تعالی فرمایلي دي: [یَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ] (الاعراف: آیت ۳۱).

ژباړه: ای زامنو د آدمه! واخلئ تاسې زینت (ښائست) خپل په نزد (د وخت) د هر لمانځه (په اغوستلو د پاکو کالیو (جامو) د عورت ستر) او خورئ او څښئ او اسراف (بې ځایه خرڅ) مه کوئ تاسې بې شکه چې اللّٰه نه خوښوي مسرفان (بې ځایه خرڅ کوونکی). (کابلی تفسیر)

(۱٤) له کوژدې او نکاح وروسته دې هڅه وشي چې د امکان په صورت کې هر څومره چې ژر وي، واده وشي.

(۱۵) له کوژدې وروسته رواجي او تکراري پوښونه (جوړې) منع دي، په کال کې یو ځل د زوم له خوا یوازې ناوې ته له اسراف پرته د وسعې مطابق د پوښ (جوړې) ورلو اجازه شته، د ناوې له خوا زوم ته پوښ (جوړې) وړل مطلقاً منع دي.

(۱٦) د ولیمې او واده مراسم به له اسراف او ریاء پرته د زوم د وسعې مطابق د

هغه د خوښې په ځای او موټرو کې ترسره کېږي، خسرګنی یې نه شي مجبور کولای چې په هوټل، یا قیمتي موټرو کې د واده مراسم ترسره کړي.

(۱۷) زوم به د واده مراسم په امارتي موټرونو کې نه ترسره کوي.

(۱۸) د واده پر وخت د زوم له خوا دې د ناوې کورنۍ ته خوړې یا طوی (پاخه یا خام خوراک) نه ورول کېږي، همدارنګه د بولې (شیریني خوری) او جوړې د مصارفو اخیستل او غوښتل هم منع دي او همدارا زله زوم څخه د دودي او ټکري په نوم او یا په نورو نومونو رختونه غوښتل منع دي او د شریعت له مخې د یادو شیانو اخیستل ناجائزکار دی.

(۱۹) د ناوې ورلو پر وخت د ناوې د ماما، د ناوې د همزولو، د کلیوالو او یا بل خدمتګار له خوا او یا د دوی لپاره د زوم له کورنۍ څخه پیسې غوښتل منع دي، البته که د کلي خدمتګار ته چې همېشه په ښادیو کې د کلیوالو خدمت کوي په خپله خوښه څوک د صدقې په نوم پیسې ورکوي، باک نه لري.

(۲۰) په ودونو کې د لوبو داسې مسابقې جوړول چې ګټونکي ته د موټر، موټرسایکل یا بل شي انعام ورکول کېږي منع دي، ترڅو د بېځایه اسراف مخه ونیول شي، البته د جائزو لوبو مسابقې چې انعام پکې نه وي، جوړېدای شي.

(۲۱) د کوژدې، دستمال یا واده د مراسمو پر مهال دزې (ټکان) کول او له امارتي

وسایطو څخه استفاده کول منع دي؛ همدارنګه په ورته مراسمو کې د موټرو او موټرسایکلو ځغلول، لوبې وراوې تیارول او یا داسې نور کارونه چې د لارې د بندېدو یا د تلفاتو او یا د خلکو د اذیت سبب کېږي، منع دي.

(۲۲) په واده کې یا له هغه وروســــته ناوې ته د نورو کورونو د نارینه وو او ښځینه وو له خوا برخه (جامې / پیســــې) ورکول او بیا د ناوې له خوا په عوض کې برخه ورکول منع دي؛ ځکه له دې ناوړه رواج څخه یو دروند تکلیف رامنځته شــوی او بده لا دا چې د هر څه عوض به بېرته ورکوي چې د محبت پرځای نفرت پیدا کوي.

(۲۳) د دستمال په مراســمو کې به د زوم له کور پرته نور مېلمانه ناوې ته د پیســو ډالۍ نه ورکوي او نه به د ناوې کورنۍ مېلمنو ته جامې او نورې ډالۍ ورکوي، البته له اسراف او ریاء پرته د مېلمنو اکرام پروا نه کوي.

(۲٤) بدل / موخۍ ښــه عواقب نه لري حتی الامکان دې ترې ډډه وشــــي، د بدل / موخۍ په صورت کې د مهر تاکل او ورکول ضروري دي، علماء کرام دې د بدل / موخۍ د کراهیت په هکله خلکو ته پوهاوی ورکړي.

د مړي په مراسمو کې د رعایت وړ ټکي

دوهمه ماده

(۱) په ځینو سیموکې د مړي د کورنۍ له لوري کلیوالو او نورو خلکو ته په معینو ورځوکې طعام او مېلمستیا برابرېږي، چې فقهاء کرامو ترې منع کړې ده، په دې هکله د فقهاء کرامو ځو اقوال په لاندې ډول دي:

– د مړينې په مناسبت د مړي د کورنۍ له لوري خلکو ته مېلمستیا برابرول مکروه دي؛ ځکه مېلمستیا په خوشحالیو کې وي، نه په غمونو کې، دا ډېر بد بدعت دی (چې د غم په ورځ خلکو ته مېلمستیا تیاروي، ځکه چې شریعت کې دا اصل نه لري او بل دا چې د دغو ورځو خپل خپل ترتیبونه او مکلفیتونه دي.

– د مړينې په مناسبت راټولو شویو خلکو ته د مړي د کورنۍ له لوري د خوراکونو چمتو کول ګناه ده؛ جریر بن عبد اللّه رضی اللّه عنه وايي: د مړي په کور کې د هغه د خپلوانو راجمع کېدل او د هغوی له لوري د خوراک ترتیبول موږ له نیاحت څخه ګڼله؛( ) یعنې لکه ویر (چیغې او فریاد) مو چې ممنوع او بد ګڼلو دا مو هم بد ګڼلو (حال دا چې نیاحت او ویر کبیره ګناه ده).

– د مړي د کورنۍ له خوا خلکو ته خوراک برابرول مکروه دي، ځکه چې له دې سره یې مصیبت زیاتېږي او بل دا چې د جاهلیت د زماني له خلکو سره مشابهت راځي.

– رواجي خیراتونه د ځان مشـــهوره کولو او ریاء لپاره دي، د اللّٰه تعالی لپاره یې نه کوي له دې امله باید ډډه ترې وشي.

– رواجي خیرات که مباح هم شـــي له دې امله چې خلکو د واجبوالي مرتبې ته رسولی، مکروه او ترک یې ضروري دی.

پورته ذکر شـــویو شـــرعي دلیلونو او همدارازنوروګڼو، ټولنیزو، شـــرعي او اقتصـــــادي رامنځته کېدونکو زیانونو ته په کتو سره په لاندې ټکو باندې عمل کول ضروري دي:

(۱) د مړي د کور له لوري د بدرګې او مېلمســــــتیا په څېر د رواج له مخې (په لومړۍ، دریمه، اوومه او څلوېښـــــــــــتمه ورځ) طعام برابرول، منع دي، د مېلمستیا له شکل او د ورځې له تعیین پرته د نقد مال یا جنس صدقه کول چې لاندې شرطونه هم پکې رعایت شوي وي، مړي ته د ثواب سبب دي:

۱ – صدقه به د ریاء، شهرت، سیالۍ، رواج او د خلکو د پېغور له امله نه وي.

۲ – صدقه او خیرات به واجب او ضروري نه ګڼل کېږي، که چا ونه کړ هغه ته به په بده سترګه نه کتل کېږي.

۳ – صـــدقه او خیرات یوازې بالغ او عاقل وارثان له خپل مال څخه په خپله خوښه کولای شي، د یتیم او غیرحاضر وارث مال به پکې نه مصرفېږي.

(۲) د یتیم له مال څخه په مړي پسې خیرات او صدقه کول که څه هم د یتیم

په اجازه وي، منع دي، هغه څوک چې د یتیم په مال کې دا ډول تصرف وکړي، ضمان پرې لازم دی۰

(۳) په ځینو سیمو کې د رواج له مخې خلک د مړي په لومړي اختر د مړي کورته د تعزیت لپاره ورځي، دا هم ناسم رواج او منع دی۰

(٤) په ځینو ځایونو کې رواج دی چې شځه تر وفات وروسته ضرور باید د پلرنۍ (هدیرې) ته انتقال کړل شي او نه انتقال یې د ټول قوم لپاره پېغور ګڼل کېږي، چې دا کوم شرعي حیثیت نه لري، بلکې غوره دا ده چې د هغې د خاوند او اولادونو د خوښې په هدیره کې دفن کړل شي۰

(٥) د ګاونډیانو او خپلوانو له لوري د مړي کورته طعام برابرول مستحب عمل دی۰

(٦) د تعزیت لپاره د شریعت مطهره له لوري د دفن له ورځې سره درې ورځې ټاکل شوې دي، البته غائبو اشخاصو ته تر هغه وروسته هم د تعزیت کولو اجازه شته۰

(۷) له یو ځل فاتحې کولو وروسته بیا د مړي کورته د فاتحې په نیت ورتلل مکروه دي۰

(۸) امارتي مسئولین دې د خپلو وفات شویو خپلوانو فاتحې نه اعلانوي، له اعلان پرته د خپلو اوسېدلو په ځای کې دې یوازې تر درو ورځو د فاتحې لپاره

کښېښناستلای شي.

(۹) حیله اسقاط د هغه مړي لپاره کېږي چې فقیر، یا مالدار وي خو له وصیت پرته وفات شـوی وي، یا یې وصـیت هم کړی وي خو د مال دریمه برخه یې د واجبو فدیو لپاره کفایت نه کوي، که مړی شتمن وي او وصیت یې کړی وي پر ولي باندې یې واجب دی چې واجبې فدیې به یې د مال له دریمې برخــې څخه اداء کوي او یوازې په حیله اسقاط به بسنه نه کوي، البته د حیلې طریقه به د حنفي فقهې د هغو شرطونو مطابق وي چې یادونه یې شوې ده.

(۱۰) د شرعي حیلې شرطونه په لاندې ډول دي :

۱ – د حیله اسقاط لپاره جمع شوی مال به د قبض لپاره یوازې مسکینانو ته ورکول کېږي، غني، ماشـــوم، لیونی، ســـفیه (بې عقله) او کافر ته به نه ورکول کېږي.

۲ – حیله اســقاط به د رواج او ځان ښــودنې په خاطر نه کېږي؛ بلکې په دې نیت به کېږي چې د مړي غاړې پرې خلاصې شي.

۳ – د مړي وارثان به د حیلې لپاره له داسې سړي څخه پیســې یا بل جنس نه قرض کوي چې هغه یې په خپله مالک نه وي او نه به له داسې شــریک څخه قرض اخلي چې د بل شریک یې اجازه نه وي.

۴ – د فدیو ګرځوونکی باید د مړي وارث یا د وارث وکیل وي او وکیل ته ووېل

شي چې د هرې دورې له ختمېدو وروســـته د هرې بلې دورې لپاره فقیرته د مال په ورکولو او بېرته اخیستلو کې بیا زما وکیل یې.

۵- د مړي قضاء شوي لمونځونه او روژې باید دقیق حســـاب شي او که دقیق معلوم نه وي نو په غالب گمان دې حساب شي.

۶ -فقیرته د ورکړې پرمهال به یې دا نیت وي چې فقیر د دغو پیســـــو او شیانو مالک گرځي.

۷ -فقیر به په دې پوه وي او یا به یې څوک پوهوي چې په قبض کولو ســـره یې مالک گرځي.

۸ -کوم شخص چې فدیې گرځوي او فقیرته یې ورکوي باید لاسونه ترې لرې کړي او له هغه څخه په بېرته اخیستلو کې تلوار ونه کړي.

۹ -د فدیو گرځوونکی به فقیرته داســـــې الفاظ وایي: دا د فلانکي چې د فلانکی زوی دی د لمونځ، روژې، قسم یا...فدیې دې قبولې یې کړه، هغه به ووایي: قبولې مې کړې، زه یې مالک شوم، بیا به یې بېرته یاد شخص ته هبه کړي.

۱۰ – حیله کوونکی به له دورې وروسته د فقیرله زړه بدوالي څخه ځان ساتي، که مال د حیله کوونکو وي دومره مال به په صدقه کې ورکوي چې د فقیر زړه پرې خوشحاله شي.

۱۱ – که د حج په میاشتو کې حیله کېږي دا دې په نظر کې ونیسي چې دومره پیسې یو ځای فقیرته ورنه کړي چې حج ورباندې فرض شي.

۱۲ – که مړي وصیت نه وي کړی، ولي یې له مال څخه فقیرته د وارثانو په رضا هغه مهال څه مال ورکولای شي چې په وارثانو کې به یې غائب او صغیر نه وي او که یې وصیت کړی وي، نو بیا د میت د مال له دریمې برخې څخه مال ورکولای شي که څه هم په وارثانو کې غائب یا یتیم وي.

له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال له ځینو غیرضروري مصارفو او ناسمو رواجونو څخه ډډه

درېیمه ماده

په ځینو سیمو کې له حج او عمرې څخه د راستنېدو پرمهال د مبارکې او سترې مشې په مناسبت د سیمې د خلکو او راغلو او رابلل شویو مېلمنو ته درنده مېلمستیا او خیرات برابرول او همدارازلوړ بیه تحفې خلکو ته ورکول ضروري رواج ګرځېدلی دی چې له یوه پلوه کوم شرعي حیثیت نه لري او له بله پلوه د زیات لګښت له امله د زیاتو خلکو له حج او عمرې څخه د محرومیت او یا د تأخیر سبب ګرځېدلی دی، له همدې امله باید ټول حجاج او معتمرین له یادو مصارفو او زیان اړوونکو رواجونو څخه ډډه وکړي.

د دې فرمان د حکمونو پوهاوی ورکول او د هغو عملي کول

څلورمه ماده

(۱) د کورنیو چارو، ســــرحدونو، قومونو او قبایلو، اطلاعاتو او فرهنګ، د ارشاد، حج او اوقافو، پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونه، رسنۍ او په ولایتونو او ولسوالیو کې د علماوو شوراګانې، فقهي مجالس، د مســاجدو خطیبان او امامان، ولسي مخور او نفوذلرونکي مشران دې په حکمت، مصلحت او تفاهم سره په خپله برخه کې د دې فرمان د حکمونو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکړي او د پورتنیو احکامو د عملي کولو کوښښ دې وکړي.

(۲) د چارو د اداري لوی ریاست، د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو د اورېدلو وزارت او د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاســـت دې، په دوامداره توګه د دې مادې په (۱) فقــره کـــې د یادو وزارتونو، ادارو او اشخاصو له اجراآتو څخه څارنه وکړي.

انفاذ!

پنځمه ماده

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی